۱۵/۰۶/۲۰۱۸

سردار محمد همدرد

# د احمد ضیاء مسعود ځرګندونې قاتلانه وې

نن په یوه غونډه کې احمد ضیاء مسعود په ډاګه و ویل، چې د شمالي ولایتونو جګړه طالبان او داعش نه کوي، بلکې دا د جمعیت او جنبش ګوندونو له خوا دي.

احمد ضیاء مسعود چې په لومړي سر کې د ولسمشر محمد اشرف غني ټینګ پلوی او د ښې حکومتولی په برخه کې خاص استازی و، هغه وخت خیر او خیرت و، هم حکومت ښه و او هم ولسمشر اشرف غني ښه سړی و، مګر کله چې له دندې څخه لرې سو، هرڅه سرچپه سول.

زه چې کله اوس د دغه ډول سیاسونو ځرګندونې وینم، چې یو وخت د دې هېواد د ولسمشر د مرستیال په توګه یې دنده اجرا کوله، ډېر تعجب سم، چې یا خدایه! د دې وطن سرنوشت د څومره قدرت طلبه خلکو په لاس کې و. دوی خو ملي ارمانونه او ملي ګټې او هرڅه تر پښو لاندې کړل. زه پر ټول جمعیت هم بحث نه کوم. جمعیت یو ګوند دی. ښه او صالح خلک به هم په کې وي. خو شخصا د احمد ضیاء ننني ځرګندونې حکومت او ولسمشر اشرف غني ته مخامخ نه وې؛ بلکې دغه د زهرو ډکې ځرګندونې یې د افغان ملت په وړاندې وې.

دا په دې معنی ده، چې په شمال کې زمونږ کوم سرتیري شهیدان سوي د دي، د دې مسوولیت په خپله د همده په غاړه دی. بیا د قدرت لپاره دومره زهرجنې ځرګندونې؟ ولې ولسي سیاست نه کوي؟ د ټاکنو او ولسواکی په زور دې ځان واک ته ورسوي. زه احمد ضیاء مسعود ته وایم، چې ستا دغه ډول ځرګندونې د شهید احمد شاه مسعود په حق کې هم لوی ظلم دی. هغه خو افغان شموله سیاست کاوه. دغه ډول سپین سترګي او ملي ضد ځرګندونې ملت هم نه سي زغملی. بس دی، تر څو پورې واک؟ څومره لوړ پوړه ودانۍ او څورمه محلونه؟

نور خو دا وطن هم جوړولو او اصلاحاتو ته اړتیا لري. د دې بېچاره ملت له حاله که په رښتیا خبر وئ، دا ډول د نفرت او کرکجنې ځرګندونې به یې نه کولای. مونږ خو اوس ورځ په ورځ پوهیږو، چې دا پنځلس کاله مونږ د ښه حکومت خاوندان نه سوو، ورځ تر بلې مو جګړه ډېرېدله، فساد او بې عدالتې اوج ته ورسېدله، دا خو ټول د دغو کسانو قصور و، چې په واک پسې یې سترګې سرې وې او د ملت په ارمانونو یې لوبې کولې.

زه یوه خبره په زغرده کوم، چې ستا دا خبرې یوازې لاپې دي. که په تا کې دومره زور وئ، چې په شمال کې دې جګړه جوړولای سوئ، نو تا خو به ولا په یوه ورځ ټول افغانستان ته سقوط ورکړی وئ. ملت پوهېدلی دی. زمونږ تاجک، ازبک، هزاره، پشیي، نورستاني، پښتون او بلوچ ورونه ټول کاذب او د واک لېوني اشخاص وپېژندل.

دا ملت ټول د سولې او امن نارې وهي. ښه حکومتولي غواړي. عدالت غواړي او ملي وحدت د افغانستان د ټولو قومونو لوی ارمان دی. زه نه پوهېږم، حکومت هم په دومره ملي مسایلو کې بیا هم حوصله کوي؟ پدرام په بدخشان کې وایي، چې زه افغانستان نه منم او دا خراسان دی. که داسي ونه سي، نو غره ته به وخېژم. ولې حکومت اجازه نه ورکوي، چې پدرام غره ته وخیژي؟ غره ته خو طالب او داعش هم ختلی دی، دی دې هم د ۲۱ توریستي ډلو په منځ کې یوه ډله سي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زمونږ قهرمان امنيتي سرتيري د ټولو په وارنديې د پولاد په شان جګړه کوي. د افغانستان د نوم، عزت او بيرغ لپاره قرباني ورکوي. زه په ډاډ سره وايم، چې ولا که يا ځوک غره ته وخيژي او يا تر دې نورو جنګي ډلو د دې وطن لپاره سر خوږی سي. دا لاپې او هوايي خبرې ټول ملت درک کړي دي. په دغه حوصله او فکر باندې د افغانستان سياست کول د دغو سياسونو لپاره د شرم خبره ده.

په پای کې يوه خبره کوم. که هر قوم پښتون، تاجک هزاره او يا بل د دې هېواد ملي ګټې تخريبوي، په وارندې يې بايد قاطع دريځ اعلان سي. نور دا ملت د دې ډول مسوولينو او سياسونو څخه نفرت کوي، چې سترګې يې سرې وي او يوازې واک ورته مهم وي.

ملت ته هم په کار ده، چې د دغه ډول څرګندونو په وړاندې بايد بې دريځه پاتې نه سي. دا نظام خو يوازې د ولسمشر محمد اشرف غني نه دی. دا نظام خو د ملت دی. پر افرادو او اشخاصو دې نيوکې وکړي، د اصلاحاتو لپاره دې سالم نقد هم وکړي، خو د ملي ګټو تخريب کوونکي د ملت تخريب کوونکي دي.

په درنښت!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ